# د تنباکو چِلم اصلاحات

دېټولنې لپاره معلوماتي پاڼه

دا معلوماتي پاڼه دسوداګرۍ له پاره د ویکتوریا د تنباکود کنټرول دقانون لنډیزه ده، چې د تنباکو د خرڅلاو، اعلان اود تنباکود چِلم د کارولو په اړه ترتیب شوې ده.

## د تنباکوچلم

د تنباکو چِلم معمولاً د تنباکود تومني یا خمیرې په شیره کې دمیوې د مزو سره یوځای یو ترکیب دئ. په عمومي توګه دتنباکو چلم یوځرګنده خوږ او د میوې دمزې خوشبویي لري او د اوبود نلکی له لارې دود کیږي.

دتنباکود چِلم په عامو نومونو کې داوبود نلکۍ تنباکو، دګوړې تنباکو، نارګِل، هوکه، آرغیل ،ګوزه ، او هبلي ببلي شاملې دي.

## په قوانینو کې بدلونونه

(د تنباکوقانون) د تنباکود۱۹۸۷ کال د قانون په اساس، د تنباکود چِلم خرڅلاو، اعلان او کارول چې په **هر اندازه** تنباکو ولري ، له هغوسره به د 2017 **کال دآګست دمیاشتې د** 1 نیټې څخه وروسته دنورو تنباکو محصولاتولکه سګرټ او سیګار په شان یوشانتي چلن وشي.

ددې بدلونونو معنا داده چې د تنباکو چلم نه شي کیدای :

- په کومو ځایونو کې چې د سګرټوڅښول منع شوي دي استعمال شي.
- په کوم کس چې عمر یې له 18 کلونو څخه کم وي خرڅ شي.
- چې د خرڅلاوپه ځای کې وښودل او یا اعلان شي.
- له لنډ مهال ځای، لکه موټر څخه خرڅ شي.
- د چلم یا تنباکود شیرې د محصولاتو د خرڅلاو د پرمختیا له پاره خلکو ته هسې او یا په وړیا توګه ورکړي.

همدارنګه دا بدلونونه دفدرالي حکومت د تنباکود ساده قطیانو د قانون سره په یوه لیکه کې راځي، کوم چې د تنباکوچلمي محصولات باید په ساده قطیو کې ځای په ځای شي. په کومو چې د روغتیایي خبرتیا یا ګواښ عکس رسم شوی وي
د میوې یا نباتي بوټو څخه جوړشوي محصولات چې تنباکو ونه لري ترډې قوانینولاندې نه راځي.

## هغه ځایونه چېرې چې دتنباکو دچلم څښول په کې منع دي

د تنباکود چلم څښول په هغو ټولو ځایونو کې منع دي په کوموکې چې دسګرټو څښول د تنباکو د قانون په اساس بند دي .

په دې کې له کار کې تړلي ځایونه لکه د چاې اوقهوې د څښلو ځایونه، دناستې ځایونه او داجازې ورکړل شوي ځایونه شامل دي.

د 2017 کال دآګست له لومړۍ نیټې څخه دسګرټ څښولو بندیزونه پراخ شوي :

* د ډوډۍ خوړلو بهرني ځایونه.

* بهرني څښل ځایونه، که چیرې هره برخه د ډوډۍ خوړلو دبهرني ځایونو په 4 متری کې وي، یا دا چې په یوه دیوال سره چې ۲،۱ مترلوړوالی ولري بیل شوئ وي.

## دبدلونونو لپاره دلایل

د 2006 کال راهیسې، په ویکتوریا کې د تنباکو څښول دننه د کار په تړلي ځایونو کې بند کړای شوي دي. دا بندیزد تنباکود چلم له پاره چېرې ته چې تنباکو یې **اصلي** ماده ده د تطبیق وړدئ.

اوسني بدلونونه په قوانینوکې د تنباکود چلم په برخه کې پراخه شوي، چې د ټولني روغتیا وساتي اوپه تنباکوپورې تړلي ناروغی کمې کړي.

دنویو قوانیو موخه داده چې:

* کارکونکي اومشتریان د دوهم لاس د څښول شوي لوګي له زیانمنواغیزو څخه، د کارپه تړلیو ځایونوکې وساتي. لکه د چِلم څښلو کافي او ناستې ځایونه.

* دهغو کسانو د تنباکود چلم داخیستواوڅښولوڅخه مخنیوی چې عمرونه یې له اتلسوکلونولږ وي.

*د تنباکودچلم د څښولو مخنیوی، په تیره بیا دماشومانو او تنکي ځوانانو، کوم چې کېدای شي دغه ډول څښولو ته راکش کړل شي.

* له هغوکسانوڅخه ملاتړ، چاچې څښول پریښي او یا یې په ورستیووختوکې د تنباکوله څښولوڅخه لاس اخیستی دئ.

* له هغې لارې سره سازګاري، چې د تنباکو نور محصولات یې اداره اوتنظیم کړي دي.

**روغتیايي زيانونه**

قوي بيلګي شته چې د تنباکود چلم څښول اوله لوګی سره يې مخامخ کېدل زيانمن روغتيايي خطرونه رامنځ ته کوي.

د تنباکوچلم څښونکي اوهغه کسان چې ددوهم لاس لوګي سره مخامخ کيږي ، له هغونارغيو څخه په خطرکې دي چې د سِګرټ د څښولو له امله پيداکيږي . لکه د سږي سرطان، د ساه ايستنې ناروغي او د حامله دارۍ په وخت کې کم وزني.

يوه عامه غلط فهمي شته چې وايي د تنباکود چلم استعمال د سګرت له لوګي څخه محفوظ دئ.

داسمه خبره نه ده.
د تنباکوچلم څښونکي کيداى شي چې د سګرټ څښونکوپه څېر په ورته اويا لوړه اندازه دکيمياوي ضررونوسره مخامخ شي.

دنړيوال روغتيايي سازمان په قول، د تنباکو د چلم څښولوپه مجلس کې کېداى شي چې شامل کسان د 100 سګرټو په اندازه لوګی کش کړي.

## سزاګاني

سزاګاني يې د تنباکو د نورومحصولات په څېرلکه سِګرټ او سيګاريوشان دي.

د مثال په توګه : که يو کس د کار په تړلي ځاى کې اوياد دوډۍ خوړلوپه بهرځاى کې چې هلته دسګرت څښول منع وي دتنباکوچلم وڅښوي کېداى شي چې د يوه يونټ په اندازه جريمه ترلاسه کړي.

## زيات معلومات

دزياتومعلوماتو لپاره:

- د تنباکود معلوماتو ټيليفوني لين ته په دې شميره کې 775 136 1300 زنګ ووهئ
- د تنباکو داصلاحاتو ويب پاڼې څخه ليدنه وکړئ <www.health.vic.gov.au/tobaccoreforms>.

که غواړئ چې د2017 کال دآګست دمياشتې د اولـ ي نيټې دقانون اصلي متن څخه ليدنه وکړئ، دويکتوريا د حکومت په قانوني ويب پاڼه> legislation website
www.legislation.vic.gov.au کې د *Tobacco Act 1987* لټون وکړئ.

که غواړی داچاپي خپرونه دلاس رسی شکل
(فورمت)کې تاسوته ورسیږي، د تنباکو دمعلوماتي
ټیلیفون سره په دې شمیره 775 136 1300 کې د
ملي ریلي خدمت له لارې د 77 36 13 شمیرې ، اویا
لاندې برېښنالیک سره

tobaccopolicy@health.vic.gov.au

اړیکه ونیسئ .

د ویکتوریا حکومت 1 Treasury Place, Melbourne له
خوا قانوني اجازه ورکړشوې او نشرشوه،

© د چاپ اونشرحق دویکتوریا حکومت ، د
Mayمیاشت 2017 کال.

**مسولیت نه منل:** مهرباني وکړئ په یادولرئ ، هرډول
مشوره چې په دې معلوماتي پاڼه کې راغلي، هغه یوازې
عمومي لاربنوونه د ه . د روغتیا اوبشري خدمتونوڅانګه ،
ددې معلوماتي پاڼې نه دګټې اخیستواو مشورې په صورت کې
دهیڅ ډول تاوان اوزیان مسؤلیت په غاړه نه اخلي د دې
معلوماتي پاڼې محتویات نشی کولای د ځانګړو قانوني
مشورواخیستو ځای ونیسي

ISBN: 978-0-7311-7195-8

په دې ویب سایت کې ستاسودکاروني له پاره:
www.health.vic.gov.au/tobaccoreforms